مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

۲۰۲۱/۰۷/۰۲

# غزل

خوږې څپې راغلې، رنې لاړلې
نوې کیسې راغلې، زړې لاړلې

سترګونه سپرغۍ د مینې نالوزې
سرې سکروټې راغلې، ایرې لاړلې

کرکې په خیالونو کې سلګۍ وهې
زړونو نه د مینې څرېکې لاړلې

یار سره په فکر معامله کیږي
زړونو نه د مینې ګوړې لاړلې

تورې وریځې واوښتې د لمر پرمخ
ترمې، ترمې اوښکې د ژوند لاړلې

ګرمې وې اوردې به وې د ژمي شپې
څرک د سترګو رپ کې، سړې لاړلې

یار ترکوڅې تیر شو رنګ یې هیر شولو
مستې جنۍ راغلې، زړې لاړلې

ولی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ